**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۲ / ۰۲ / ۱۸

# ښه حل لار، د مرکزي دولت پياوړتيا ده

لومړۍ برخه

په کور دننه يو شمير مذهبي، سياسي، قومي او سمتي ډلګۍ او کړی د افغانستان د روان کړکيچ او شخړی د حل لپاره د **مرکزي دولت پياوړتيا** پرځای، هڅه کوي پر افغانانو ناکامی، له وخته لويدلی او د پرديو لخوا وړاندی شوی حل لاری وتپي . دا ډلی ټپلی چی د ګاونډيانو او بهرنيانو له ملاتړه برخمنی دي، د کړکيچ د حل لپاره کومه اغيزمنه ملي تګلار او وړانديز نه لري ، بلکی د مرکزي دولت د پياوړتيا په مخنيوي سره نور هم د کړکيچ پر اور تيل پاشي.

**د دی کړيو يو شمير يوازی نيوکی اوسبوتاژ کوی او دسيسي جوړوي او د سمون وړانديز نلري . خو افغانانو ته پر ستونزو د بري لپاره ، د مرکزي دولت له پياوړتيا پرته بله اسانه او ارزانه حل لار نشته.**

د افغانستان د ملي جبهی او ملي اتلاف په نوم ډلګګۍ چی مشري يي د څو تنو پخوانيو جګړه مارو په لاس کی ده، د افغانستان د روان کړکيچ د حل لپاره د رياستي نظام پر ځای پارلماني او د مرکزي پياوړي دولت پرځای، د کمزوری او پاشلی دولت چی بلاخره فيډراليزم ته لار اواره کړي، غوښتنه کوي. کاشکی دی ډلو او ګروپونو نومړی حل لار د ولسونو له منځه د راوتلی غوښتنی پتوګه وړاندی کولای، خو له بده مرغه دلته هم ولسونه لکه په نورو برخو کی د تل پشان له ياده وځي او د ولسونو له خبرتيا پرته داسی طرحی د خپلو شخصي ګټو او ملي ضد موخو د پليتابه لپاره هغه هم پر دولت باندی د فشار د يوی وسيلی پتوګه کارول کيږي. دا ډلی يوخوا په دولت کی شاملی دي او لوړی چوکۍ لري او بلخوا په ريا او درواغو سره د دولت د اپوزيسيون دعوی کوي. د اپوزيسيون په دريځ کی پر دولت باندی د جوړونکو نيوکو او وړانديزونو پرځای چلوټو او دسيسو ته مخه کوي او په دولت کی دننه بيا هر ډول ورانکارۍ او سبوتاژ ته لاس اچوي. دوی د دولت په دننه کی همکاري نه کوي او له دولته بهر د اپوزيسيون حيثيت او وړتوب نه لري. دوی په دواړو سنګرونو کی يانی هم د دولت په دننه او هم له دولت څخه بهر، د مرکزي دولت د پياوړتيا مخه نيسي او په دواړو لارو د دولت پښی وهي.

بل پلو دی ډلو خپلو ليکو کی او يا هم د اتلافونو په بڼه د ډيموکراسۍ، ښځو او د بشر حقوقو په بوللو او د پارلماني نظام د ښيګڼو په نوم يو شمير روشنفکران او کيڼ لاسي ځان سره ملګري کړي او د دوی په مټ د ديموکراسۍ او مدني حقوقو د خونديتابه په سندره خپل کومي ځيروي، خو دا له پامه غورځوي چی د ګروهي او موخو په لحاظ جمعيت او نظارشورا په ديموکراسۍ هيڅ باورنه لري. جمعيت او نظارشورا په خورا ښه صورت کی هم د پان اسلاميزم، سيکټاريزم او ايران سره په تړاو د فارسي د ژبني فاشيزم د ښوونځي شاګردان ګڼل کيدای شي، که نه په حقيقت کی يوازی غله او ډاکوان دي.

همداراز دوی ته که نظام پارلماني او يا رياستي وي توپير نلري، دوی به د حکومت په هره بڼه کی ملي ضد موخی پلي کوي او د جهاد او ملي مقاومت ترانه به ژوندۍ ساتي. پارلماني نظام که د ديموکراسۍ پر ستنو ولاړ وي د اسلامي جمعيت او نظارشورا ورسره څه مينه او ليواليتيا نشته. اوس نو که روشنفکران او کيڼ لاسي، له جمعيت سره د ديموکراسۍ د پليتابه په موخه او يا د پارلماني نظام په غوړو او ښکلو جملو ملګري شوي وي ، هم ځان او هم نور تيرباسي. دوی بايد خپلی ليکی له دغو ديماګوګانو ( ولس تيرايستونکو ) څخه راجلا کړي.

بل پلو که چيري اوس نظام پارلماني هم وای، په قوي ګومان به په هغه صورت کی دی ډلو بيا رياستي نظام غوښت او په بله بڼه به يی د مرکزی دولت پر وړاندی غوغا پورته کوله. ددی ډلو ليدلوری او کړنلار د افغانستان د ملي ګټو او ارزښتونو سره اړخ نه لګوي، د نظام څرنګوالی او د حکومتونو بڼی او شکلونه دوی ته د لنډمهاله موخو په برید کی ګڼل کيدای شي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د هیواد د شمالي ولسونو په استازیتوب هم ددی ډلو ادعاوی، واقعیت سره سمون نه لري. دا ډلی د شمال ولسونو د ګټو استازیتوب نه کوي، بلکی دی ډلو کی د شمال غله او داړه مار راټول شوي چی نه یوازی نور افغانستان یې چور کړ بلکی د شمال خلکو ته یي هم په کور کی کالي او لیمڅي پرینښودل.

هیواد کی د سولی د خبرو په تړاو هم دا ډلی ژمنی نه دي. سوله، نظم او د قانون پلیتوب د دوی له ګټو سره په ټکر کی دي. هر څونه چی هیواد کی بی امني او ګډوډي وي، د دوی اسونه په کی ښه ځغلي. له دی کبله په قطر یا بل هر ځای کی طالبانو او یا د دولت له نورو مخالفینو سره د جوړ جاړي خبری پر دوی باندی بدی لګي او د هغو په وړاندی تر ممکنه حده سخت غبرګون ښی .

د دوی یو شمیر په دی اند دي او وایی « طالبانو سره په قطر کی د سولی خبری اتری، کابل دولت او طالبانو سره په خبرو کی د سعودي عربستان د منځګړتوب هڅی، کابل دولت سره د اسلامي ګوند خبری او همدارنګه دی خبرو کی د کابل دولت د د زیاتی ونډی لپاره هڅه، هغه پېتی او خطرناکه لوبی دي چی سیاسي کارپوهان او د افغانستان خلک یی اندیښمن کړي دي. خاوران بریښناپاڼه»

په پورته څرګندونه کی چی د افغانستان د خلکو نوم اخیستل شوی او بیا دوی په خپل ګومان دا خلک اندیښمن ښوولی، هڅه شوی چی د سولی د مخالفو کړیو اندیښني پټی کړي. که نه، ړوند هم پوهیږي چی د سولی لپاره افغانان څونه لیواله دي او غوږ په اواز دي چی د سولی خبری به څه وخت عملي جامه واغوندي او هیواد ته به کله سوله راشي.

**دا ډلی افغان دولت سره، د یوه موازي دولت په څیر ځان سیال او حریف ګڼي. یا په دولت کی ځان بل دولت بولي.**

که افغان دولت غواړي په قطر یا بل ځای کی د دولت له مخالفینو سره د روغی جوړی خبری مخی ته یوسي، دوی باید هم په برلین او یا کوم بل ځای کی د مرکزي دولت په مخالفت او د هغه لپاره د نوي سردرد په رامنځته کیدو کی چوپ پاتی نه شي. که د دولت پلاوی د سولی د خبرو لپاره پاکستان یا کوم بل هیواد ته ځي، دولت باید له دی ډلو اجازه واخلي او یا د دولت پلاوي سره موازي باید د دوی پلاوی هم ملګری وي. که داسی ونه شي د دوی په اند بیا سیاسي کارپوهان او د افغانستان خلک اندیښمن دي! که طالبان او نور وسلوال مخالفین په وسلواله بڼه د مرکزي دولت مخالفت کوي، دا ډلی مرکزي دولت ته په کور دننه او د افغان حکومت دننه دایمي سردرد ګڼل کیږي.

لنډه دا چی د ملي جبهی او ملي ائتلاف پنوم جوړی شوی ډلی، د مرکزي دولت او سولی سره حساسیت لري. که مرکزي دولت غښتلی شي، د سولی په راوستلو کی غوښ کار کولای شي او که سوله راشي بیا به هم د مرکزی دولت په پیاوړتیا کی مرسته وکړي او دا دواړه هغه څه دی چی ددی ډلو په زړه نه ځاییږي او له ګټو او موخو سره یي ټکرکوی!

دوی په لنډ مهال کی د پارلماني نظام او وروسی د فیدرالي نظام سندره توده ساتي خو په اوږدمهال کی د افغانستان په پاشلو، د خراسان، لوی ایران او فارسي حوزی په رامنځته کولو کی ځان ژمن بولي.

که حالات راستانه او ولکه نه شي، دوی به له دغو موخو په کم څه راضي نه شي!

ادامه لري


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ